شیرمحمد امیني ستانکزی

۲۰۱۵/۰۸/۰۶

# د لیکوال او شاعر مسؤلیت



شاعر او لیکوال هغه څوک دی چې د یوې ټولنې ټول درانه مسؤلیتونه ورته متوجه وي، د ټولنې د پیښې دردونه، فکرونه، خیالونه او سوچونه شاعر او لیکوال یې په شعري اونثري ډول د ټولنې وګړوته په داسې نازکو او لطیفو ویناوو رسوي، چې د دوی ټول دردونه او کړاونه لرې کولای شي. د شاعر لپاره دا اړین کار دی چې خپل ولس ته د خدمت ترسره کولو او د هغوی په درد او غم باندې خپل مسؤولیت څرګند کړي. ځکه د دوی په وس کې د داسې ډیرو چارو ترسره کیدو قوت شته او مسؤولیت هم د ټولنې شاعرانو او لیکوالانو ته په ګوته کیږي، نن ورځ ټول شاعران، لیکوالان، فرهنګیان او د ادب مینه وال په دې ژمن ووسي، چې د همدې ټولنې د سوکالۍ، هوساینې، ترقي او پرمختګ لپاره په میړانه او په رښتینولۍ سره کاروکړي، د ولس لپاره لیکنې او شعرونه په داسې کلمو باندې رنګین کړي، چې د یوالې، سولې، وروروليٍ، پرمختګ، جوړونې او رغاوونې پیغامونه ولري. د هغو کلمو چې هغه د نفاق، جنګ، جګړو، ژبني او توکمیز تعصبات  لرونکي وي ښه به داوي، چې په لیکنو کې رانه وړل شي او د دغو کلمو پر وړاندې قلمي مبارزو په کولو سره ولس ته یې په لیکنې ډول وړاندې کړي.

لیکوال او شاعر خپل لیکنې د ولس د خدمت لپاره ځانونه ستړې کوي، ټولنه د علم او ادب په ګانه سمبالوي، د پوهې کچه د خلکو په ذهنونو کې رسموي، خلک هڅوي تر څو د لیکل شوي نثر او یا شعر هماغه مطلب چې شاعر او یا لیکوال لیکلې دي ولس خپل ځان جوړه وي او د وطن او خپلې ټولنې لپاره د خدمت جوګه ګرځي. یعنې هرشاعر او لیکوال په دې مسؤول دی، چې خپلې لیکنې د اسلامي او افغاني کلتور د ارزښت په رڼا کې ولیکي او ټولنه د هغې اغیزې لاندې راوستلای شي. ترڅو خلکو ته د ذهنیت په ورکړې سره ؛دوی وهڅول شي، چې د ملک آبادولو او جوړولو لپاره لاسونه راونغاړي او کومې ناخوالې او بدبختۍ چې زمونږ په ګران افغانستان کې سر وهي هغه له منځه ولاړې شي.

قلمي مبارزه د هر ډول مبارزو نه داسې قوي او ستره مبارزه ده، چې نړۍ د دې مبارزې پر برکت د ساینس او ټکنالوژۍ څخه برخمن پاتې شویدی. که چیرته لیکوال او شاعر د ځان په پیژندنه کې که فکر وکړي، دا به ورته جوته شي، چې د مثبتو لیکنو په کولو سره؛ هغه مجازي نړۍ ته به سر وروو‌هي، کوم چې د ټکنالوژۍ څخه زیږنده ده او که چیرته کوم ادبي لیکوالان چې منفي لیکنو ته مخه کړي دا به ورته څرګند شي چې ولسې ټولنه به له کومو بد بختیو سره مخامخ شي. نو په پای کې وایو چې ادبي او فرهنګي لیکوالانو او شاعرانو ته پکار ده، چې مثبتې او هغه لیکنې چې ټولنه د سمون لورې ته ځي ولیکي، د ضدو او  تیتو او پرکو لیکنو څخه د دی ډه وشي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ